﴿ ۵ ﴾

# د افغانستان ځو ادبي او علمي کورنۍ

لکه د اسلامي عربي خلافت عباسي، سياسي بنياد چي د خراسانيانو په لاس اينبودل سوئ دئ دغسي هم په عباسي دوره کي تر ۱۳۰ هـ وروسته د خراسان خلکو د اسلامي دنيا په علمي غورځنګ کي دوني لويه برخه اخيستې ده، چي حتی د ځينو اسلامي عقلي او نقلي علومو اصلي راويان او بانيان هم دغه د خراسان خلك دي.

د اسلام د راتګ په وخت يعني په لومړۍ پېړۍ کي د دې ځای خلکو په خپل منځ کي قديم علمي او فرهنګي ميراثونه درلودل مثلاً: رتبېل د زابل يوه پاچا د هارون حضور ته د خپل دربار يو منجم لېږلئ وُ او د البيروني په قول او ګره بوت نومی عالم د کابلشاه انند پاله په دربار کي وُ چي د شکهت پرت په نامه ئې يو د نجومو کتاب کښلی وُ.

خراسان ډيري غنې کتابخانې هم لرلې او داسي وايي چي د مرو او نشاپور کتابخانې داسي مشهورې وې چي له ليري به خلك مطالعې ته ورته راتلل او دغه کتابخانې تر اسلام دمخه زمانې څخه پاته وې، وايي چي عتابي عربي شاعر درې واره خراسان ته د دې لپاره راغلی وُ چي دلته نادر کتابونه وګوري او چي عتابي دغه نادري ذخيري ولېدې نو ئې و ويل :



"عربي ژبه خو يوه تکره ژبه ده مګر معاني خو ډېر د عجمو په کتابو کي دي" دا روايات ښکاره کوي چي دلته زموږ په وطن کي يو علمي ښه ذهنيت موجود وُ، او کله چي اسلام راغی نو د خراسان خلك هم علمي حرکت ته تيار وو او د اسلامي علومو په روزنه کي يې ډېر کارونه کړي دي چي زه يې يو ځو علمي کورنۍ درپېژنم :

## آل شاکر :

موسی د شاکر زوی د خراسان له خلکو څخه وُ چي په ځواني کي يو لښکري او دلاور سړی وُ ده هندسه زده کړه، او په دې علم کي خورا ماهر سو د ده درې زامن په بني شاکر مشهور او نومونه ئې محمد ـ احمد ـ حسن وو چي د مامون عباسي خليفه په بيت الحکمه کي تربيه سول.

لومړی زوی ابوجعفر محمد چي په ۲۵۹ هـ کال مړ دئ په هندسه او نجوم او اقليدس او المجسطي کي لوی استاد وُ او دغه درې سره ورونه داسي پوهان وو چي تل به يې د علم او عالمانو پروربنت کاوه او په دې لاره کي به يې ډيري پيسې خرڅولې چي په يوه مياشت کي به تر ۵۰۰ ديناره رسېدې، دوی په هندسه او علم حيل او حرکاتو او موسيقی او نجوم او رياضي کي ډېر کتابونه تاليف کړل او احمد په علم حيل کي دوني استاد وُ چي هيچا سيالی نسوای ورسره کولای او هابل دريم ورور حسن په هندسه کي وتلی وُ، او ډيري مسئلې يې پکښې کشف کړي وې لکه دا چي زاويه يې پر درو مساوي برخو وېشله يا به يې دوه خطونه په دوو متوالي خطونو کي کښل چي په دغه وسيله به ئې نور مسايل حل کول. د آل شاکر له مؤلفاتو څخه ابن نديم پنځلس کتابونه د رياضي او

هندسې په مختلفو فروعو کې ذکر کړې دي د گوستاولوبون په قول : مامون خليفه محمد بن موسی ته امر وکړ چې يوه ساده او عام فهمه کتاب په جبر و مقابله کې وليکي نو دوی لومړی پلا جبر و مقابله په هندسه کې استعمال کړه.

او د کروي مثلثاتو د حل کولو لپاره يې داسې اشکال تيار کړل چې تر اوسه لا هم معمول دي. هم دوی د سياراتو تقويمونه ترتيب او د بغداد عرض البلد يې داسې وټاکه چې له اوسني عرضه سره يې فقط لس ثانيې فرق سته. او دغو درو ورونو په ميکانيک يعنی علم حيل کې دونې شهرت وموند چې خلکو به دغه علم د بني موسی حيل باله او د واتيکان په مکتبه کې يوه خطي نسخه سته چې نوم يې داسې پر کښلی دئ :

"کتاب الحيل بنی موسی بن شاکر منجم"

د فوات الوفيات د مؤلف په قول آل شاکر د اسلامي خلافت په مرکز بغداد کې دوهم رصدخانه د بغداد له پله سره جوړه کړه او هلته د ستورو په ليدنه کتنه بوخت سول او د لمر او سپوږمۍ د حرکاتو حسابونه يې استخراج کړل.

## آل اماجور :

پله علمي کورنۍ د جوزجان له آل فريغون څخه وه چې پلار يې اماجور د هرات اوسېدونکی و. د ده زوی ابو القاسم عبدالله بن اماجور هروي پخپل عصر کې لوی عالم او د گټورو تاليفاتو خاوند دئ، چې اکثر زيجونه يې ابن نديم او القفطي ذکر کړي دي، دی د ۲۰۰ ه په شاوخوا کې ژوندی و، د ده زوی ابوالحسن علی هم ترويتی (منجم) او د ارصاد عالم و او ډېر تاليفات لري چې د ۳۰۰ ه کال په حدودو کې يې علمي



پلټنې او کتنې کولې، او ده د بطليموس د قول پر خلاف دا ثابته کړه چې د مياشتې فاصله له لمره څخه کميږي او دا يوه نوې نظريه وه چې د مياشتې په حرکاتو کې پيدا سوه.

علي بن عبدالله اماجور په ۳۰۶ هـ د صفري او لومړی خور په مياشتو کې د مشتري د رجعت رصد وکړ د مشتري ــ مريخ ــ قمر رصدونه يې وکښل او دا يې کشف کړه چې د لمر عرض پر يوه حال نه پاتېږي.

د ابن آدمي په قول دغه علي ډېرش کاله په فلکي تحقيقاتو بوخت و، د سياراتو د طول او عرض اختلافات يې ضبط کړل او د قمر په طول کې يې شپاړس دقيقې د رصد او حساب فرق راوبوست، وايې چې د قمر، اهتزازي حرکت هم ده په غور مطالعه کړ مگر کاملاً يې حل نکړای سو.

د دې علمي مشهورې هراتي کورنۍ لومړی پلار عبدالله، دغه کتابونه تاليف کړي وو چې اکثر يې د نجوم او فلکياتو دي لکه : زيج خالص ــ زاد لمسافر ــ زيج مزنر ــ زيج بديع ــ زيج السند هند ــ زيج ممرات ــ زيج المريخ او نور ...

## د خالد مروزي کورنۍ :

پله مشهوره علمي کورنۍ ده چې خالد بن عبدالملک د مرو رودِ وو.

دا هغه ځای ده چې اوس د هرات او ميمنې تر منځ د مرغاب وادی گڼله کيږي. پخوا په دغه سيمه کې ډېر ښارونه او آبادۍ وې او په اسلامي تاريخ کې ډېر د مرو رود خلک مشهور دي.

خالد په اسلامي دنيا کې مشهور راصد و، چې د ۲۰۰ هـ کال په شاوخوا کې ژوندی و، او کله چې په ۲۱۴ هـ مامون عباسي خليفه د

نجومو پوهان سره راټول کړل او دوی يې د رصدي آلاتو په جوړولو او د ستورو په ارصاد د بغداد په شماسيه او د دمشق په جبل قيسون کې وګمارل په دغو پوهانو کې يو خالد مروزی هم وُ، چې يو زيج يې ترتيب کړ، او دغه ماموني رصد په عالم اسلام کې لومړی رصد دئ، چې يو خراسانی عالم هم پکښې شامل وُ د خالد د وفات تاريخ نه دئ معلوم مګر د مامون تر مرګه ۲۱۸ ﻫ پورې لا ژوندی وُ.

په دغه رصد کې د مځکې د کُرې د دور او اوږدوالی په اسلامي دنيا کې لومړی پلا وټاکل سو، دوی د هرې جغرافي درجې طول ۵۶ ميله وګاڼه او په دې حساب يې د کُرې ټول محيط ۲۵۰۰۹ ميله حساب کړ چې د اوسني علمي تحقيق سره (۱۵۱) ميله تفاوت لري او دا په اسلامي علمي دنيا کې يو لوی تحقيق ګڼل سويدئ، ځکه چې د پخوانو حکيمانو او منجمانو ټاکنه له اوسني تحقيق سره ډېر تفاوت لري دغه خالد يو زوی هم د محمد په نامه درلود چې د اخبار الحکماء د مؤلف په قول د خپل عصر لوی ترويتي و او د ستورو په يون ښه پوهېده.

د محمد زوی عمر نومېده چې دی هم د خپل عصر مشهور منجم وُ او د خپل نيکه خالد په ډول يې يو لنډ زيج ليکلئ دئ، دی پخپله هم لوی اسمان پلټونکی او د رصد خاوند و يو کتاب يې د تعديل الکواکب او بل يې د صناعة الاصطرلاب المسطح په نامه کښلئ دئ.

له دغې لوړې څېړنې څخه تاسې ته دا په ښه ډول ښکاريږي چې په خراسان کې د اسلامي دورې د عقلي علومو پروربنت په ښه ډول سوئ دئ، او اکثر مشهور پوهان او حکيمان او څېړونکي يې د خراسان خلک وو، چې زه دلته د يو څو نوميالیو پوهانو نومونه اخلم : ميشي خراسانی د مرو چې عربو ماشاء الله باله ۲۵ تاليفونه په فلکياتو کې لري. ربن د مرو



لوی معلم او د علمي کتابو مترجم وُ چې په ۲۴۷ ﻫ وفات سويدئ، ابو معشر د بلخ لوی منجم چې اوس يې هم دوولس کتابونه موجود دي. حبش حاسب هم د مرو رود په ۲۲۰ ﻫ کال کې مړ سو ډېر د رياضی ـ آرټ او نجومو کتابونه لري.

جابر خراسانی د ۲۳۲ کتابو مؤلف وُ دی د کاستيك سودا کاشف دئ او ګوستاولوبون يې ترلاوازيه دمخه د کيميا مؤسس ګڼي.

ابو العباس هم د خراسان د سرخس وُ ۲۳ علمي تاليفونه يې معلوم دي. د رياضي او منطق ـ موسيقی او طب او فلکياتو استاد وُ.

دا څو تنه ما د مثال په توګه ذکر کړل که نه وي په عقلي او نقلي علومو کې د خراسان ډېر داسي استادان لرو، چې د بعضو علومو مؤسسان هم بلل کيږي. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۶۱ ل کال، ۳ یمه ګڼه، ۱ ـ ۵ مخونه.